مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۳/۰۵/۰۲

# ملي محور

د پیرنګیانو د واکمنۍ په تاریخ کې، یو هندو پنجابي او دوو مسلمانو پنجابیانو داسې سیاسي معجزې ننداري ته وړاندې کړې چې د بالیوډ په فلمونو کې هم چا نه وې لیدلي. تیره اونۍ د سکاټلند نشنل ګوند، حمزه یوسف د خپل لومړي وزیر په توګه وټاکلو. ۳۷ کلن حمزه چې د همجنس ګرایانو د واده کلکه ننګه کوي، پلار یې د پاکستاني پنجاب، مور یې د کینیا او میرمن یې فلسطینۍ ده. له ده پنځه میاشتې وړاندې، د انګریزانو محافظه کار ګوند هندو مذهبی ریشي سوناک چې مور او پلار یې له هندي پنجابه راغلي؛ د صدراعظم په توګه وټاکلو. په سبا له یې د هندوایزم د بهګواد ګیتا په کتاب له قسم خوړلو وروسته کار پیل کړ. ورځې لا تیرې نه وې چې د صدارتي مانۍ مخ ته یې د هندوانو د دیوالي (رنګونو) مذهبي میله ترسره کړه او لیرې نه ده چې د خپل رسمي دفتر په انګړ کې د غوا یوه مجسمه هم ودروي.
په ۲۰۱۶م کال کې صادق خان د لندن ښاروال غوره شو. د نوموړي پلار له پاکستاني پنجابه راغلی او د لندن د ښاري بس موټروان وو. هغه مغرور انګریزان چې په امپراتورۍ کې یې لمر نه ډوبیدلو او د دغې سیمې له عامو خلکو سره په یو دسترخوان ډوډۍ خوند نه ورکولو، نن د هغوئ د لمسیانو راج ته غاړه ږدي. له دوئ ټولو ترمخه، په ۲۰۰۹م کال کې تور پوستې باراک اوباما د امریکا ولسمشر شو او اته کاله یې د نړۍ په بام واکداري وکړه. هغه امریکا چې یو مهال تور پوستو شاګردانو له سپین پوستو سره په یو بس او صنف کې د کښیناستلو اجازه نه درلودله، حاضره شوه تور پوستي سیاستوال ته د مشرۍ پګړۍ په سر کیږدي او د سپینې مانۍ کیلي ورته وسپاري. ځکه امریکایان په بدلون او سمون باور لري او پوهیږي چې ملي محور، تل د ملي ګټو او ملي مصلحتونو ضامن وي.
راځئ خدای ته مخ او شیطان ته شا کړو، که چیرې همدا څلور واړه نامتو شخصیتونه په کوم عربي هیواد کې میشت وای، نو هرکال به د خپلې اقامې د تمدیدولو لپاره په لاین کې ولاړ وو، ځینو به الله تعالی ته دعا کوله او چا به بهګوان ته زارئ کولې چې د کفیل له غضبه مې وساته. لویدیځه نړۍ نه جنت دی او نه په دې هیوادونو کې څوک د عمري عدالت خبرې کوي؛ بلکې یواځنې لامل یې دا دې چې غربیان د خپلو ملي مصلحتونو په خاطر، په یو منلي محور باندې راټول دي. هلته انسان، انسان ګڼل کیږي؛ مدني او ټولنیز حقوق یې خوندي دي. ښایي د همدې ټولنیز عدالت له وجې، هرکال له درې ملیونو څخه زیات مسلمانان هڅه کوي ځانونه غرب ته ورسوي چې له بده مرغه، ډیر یې په سمندرونو کې د نهنګانو خوراک شي او څه په ځنګلونو او ټرکونو کې له لوږې او تندې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړي.
کوټلې خبره همدا ده چې موږ ملي محور، ملي ګټو او ملي ارزښتونو ته چندان ارزښت نه ورکوو. په همدې یوې پیړۍ کې مو پخپلو لاسونو درې ځلې ملي اردو ړنګه کړه او د وارد شوو ایډیالوژیو او ازمونو په تنور کې مو خپل ولس وریت کړ. موږ د دوست او دښمن په تعبیر کې یوه خوله نه یو؛ حتی د ملي بیرغ په رنګونو نه جوړیږو او خپل هویت، تاریخ او کلتور د ګاونډیانو د تمدني حوزې برخه بولو. په یویشتمې پیړۍ کې خپلې لوڼې او خویندې له هغو حقوقو څخه محروموو چې دین، قانون او فطرت ورکړیدي. موږ له هغه چا ډاریږو چې د قلم، کتاب او رڼا په خاطر، په تورتمونو کې د خلکو غوږونو ته غږ رسوي. د هغه چا مرۍ خپه کوو چې د حق، برابرۍ او پخلاینې اواز پورته کوي. د ملي محور کمزورتیا مو دا ده چې د خپل وطن هندوان او سیکان د هغوئ د عقیدې په خاطر وژنو، جایدادونه او درمسالونه یې لوټ کوو او بیا په ډډ ستوني د اسلامي عدالت شعارونه هم زمزمه کوو!
بله بدنصیبي دا ده چې زموږ مذهبي محور هم د اختلافاتو او سلیقو نذرانه شویدی. که له غټو خبرو تیر شو، یواځې د تراویح په حکم او رکعتونو هم اتفاق نه لرو چې آیا هغه شل دي، اته دي او که هیڅ نه؟ د کوزې پښتونخوا یو مشهور مفتي صیب وایی: قیام اللیل شته خو تراویح لاچا راویستلې دي؟ همدا شان موږ د عقیدې په ډیر مهم اصل کې هم د تذبذب په لومه کې ګیر یو. په پنځه وخته لمانځه کې وایو «إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ» خو چې سلام و ګرځوو او یا د جومات له دُرشل پښه را د باندې کړو، نو زیارتونو او بابا ګانو ته چیغې وهو چې را رسیږئ. له کوډو، حسد او نظر څخه ډاریږو او د کرونا او بواسیرو علاج په تعویذ او د قبر په خاورو باندې کوو. خپل تقدیر د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سرېک د غاړې په فالبين لټوو. ډالر مو خوښ دی، ټايټينک او د ټام کروز فلمونه ګور، آيفون او د اپيل کمپوټر ګرځوو، ختمونه کوو چې ربه زوئ، زوم، لور او ننګور مې په عافيت سره امريکا او اروپا ته ورسوه، له يهودو او نصاراو خيرات غواړو، بيا په مړه ګېډه د زنده باد او مرده باد شعارونه ورپسې ور وشړو!
حق تعالی فرمايي: (إِنَّ اللّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ - الله ترهغې د يو ولس په ژوند او حالت کې بدلون او رغون نه راولي، ترڅو يې پخپله په ځان کې تغير نه وي راوستې). نور نو بس دی. د هيڅ نوم، شعار او داعيې په پلمه بايد جنګ ونه شي. ځکه نور جنګونه به نور جنګي اتلان او بې سواده مارشالان وزيرړوي؛ نورې ميندې به بورې، خويندې کونډې او ګلالي يتيمان به د ځناورو د هوسونو ښکار شي. اوس د دې وخت رارسيدلی چې د څلور نيمو لسيزو خړاوو، تربګنيو او يرغلونو په پای کې په داسې يو محور باندې راټول شو چې زموږ اسلاميت، افغانيت، عدالت، خپلواکي او سوکالي په کې خوندي وي. کنه نو، دا به د تاريخ جَبر وګڼو او جَبر تل نازولې وي.

-----------------------------------

يادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولای شي د ملکزي نورې ليکنې او څېړنې د هغه په فيسبوک، لنکد ان او د يوټيوب په چينل کې ولولي او وګوري؛ ادرس يې دا دی: Wali Malakzay


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ